سرلوخ مرادزی ۲۰ / ۰۱ / ۲۰۱۶

پاچاخان او قومي تحریک

د پاچا خان د ۲۸ تلین په مناسبت:
نن موږ د افغانانو د ستر او ویاړلي مشر، فخرافغان پاچا خان ۲۸ تلین په داسي حال ترسره کوو چي ټوله لره بره پښتونخوا، پېښور او چارسده لکه د ده د وفات د ورځي پشان، یو ځل بیا د ویر او ماتم پر ټغر ناسته ده!
نن د وحشت او تحجر دودپالو په چارسده کي د پاچاخان پوهنتون او د هغه په انګړ کي ځوان نسل په داسي ورځ په نښه کړ چي هلته پښتانه افغانان د پاچاخان د ۲۸ تلین لپاره د راټولېدو او غونډي په درشل کي وو. ویل کیږي په ننی خونړي برید کي ۴۰ تنه شهیدان او له ۶۰ زیات ټپیان شوي دي.
په دي پېښه کي د چارسدي پښتونپاله او تاریخپاله ځمکه یو ځل بیا لکه د ۱۹۴۸ کال د اګست د ۱۲ مي نېټي د چارسدي د بابړي پېښي پشان، د پښتنو د تعلیم یافته ځوانانو او استادانو په سپېڅلو وینو ولمبېده!
په چارسده کي یو وار بیا د بابړي خونړی پېښه تکرار شوه!
په ۱۹۴۸ کال د اګست په ۱۲ مه، د چارسدي په بابړه کلي کي د خدایي خدمتګار تحریک پر کارکوونکو، پوځیانو ډزي وکړي. ویل کیږي د هغه مهال د قیوم خان په مشری د مسلیم لیګ سرکار امنیتي ځواکونو په ډزو تر ۶۰۰ زیات پښتانه وژل شوي وو.
بر افغانان چي هره ورځ، لکه نن کابل کي د کابورا پرودکشن په کارکوونکو برید ، د تروریستي پېښو شاهدان دي او د هغو درد په غوښو او هډوکو احساسوی، ځان د پاچاخان پوهنتون د شهیدانو په غم کي شریک بولي. نن په کابل او پېښورهممهال تروریستي برید ځرګندوي چي تروریزم د پاکستاني او نړیوالو جاسوسی کړیو په مرسته د ډیورند د تپلي کرښي پر دواړو غاړو یوازي افغانان په نښه کړي دي. پر پاچاخان پوهنتون تروریستي برید چي په کلکو ټکو د غندلو دی، باید د تروریزم په وړاندي د لر او برو افغانانو ترمنځ د لایووالي لامل شي.
افغانان چي د پاچاخان د عدم تشدد لاري پلویان او لارویان دي، نن په سیمه کي د هغه تروریزم یوازینی موخه او قربانیان دي چي په پاللو او پیاوړتیا کي یي هیڅ راز ګټه او برخه نه لری او د نورو لخوا پري تپل شوی دی.
د پاچاخان د تلین او په دي ورځ د هغه په نوم د پوهنتون او نورو افغانو شهیدانو اروا ته د دعا او ویرځپلو کورنیو سره د غمرازی په موخه غواړم ټولو افغانانو سره د پاچاخان لاندي کلام د هغه په خپله لیکنه شریک کړم.

قومي تحریک

د کامیابی لپاره اجتماعي تحریک او قرباني پکار وي نو د چا په زړه کي چي دا قسم جذبات او احساسات پیداکیږي،هغوی ته پکار دي چي په قوم وګرځي او ځان سره د دي قسم د احساس خاوندان ملګري پیداکړي او په شریکه د ظلم زیاتي او بي عزتی مقابله وکړي چي په قوم کي داسي ډله پیداشي او قوم منظم کړي نو کامیابي حاصلیدای شي او هغه قوم بیا څوک غلام ساتلی نه شي. د انفرادي او اجتماعي حرکت یو فرق دا دی چي حکومتونه انفرادي حرکتونه غلی کولی او ختمولی شي همدا وجه ده چي په انفرادیت کي ویره او ترس هم ډېر وي او حکومت اجتماعي حرکتونه وژلی نه شي، ځکه چي ویره پکي نه وي.
ډېر انفرادي حرکتونه چي ډېرو غښتلو پښتنو یي رهبري کوله مغلو، انګریزانو او پاکستان خاموش او ختم کړل، مګر د خدایي خدمتګار تحریک چي اجتماعي تحریک و، نه د پیرنګیانو ظلمونو، وژلو، وهلو، ټکولو، قیدونواو فریبونو ختم کړو او نه د پاکستان دوه دیرش کلو ظلمونو، شرمولو، وژلو، جایداد ضبطولو، قیدولو، پرمټونو او لالچونو ختم کړو. په پښتنو کي ډېر لوی لوی پاچاهان او مشران پیداشوي او تېر شوي خو هیچا په پښتنو کي اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیداکړی.
اولنی تحریک خدایي خدمتګار تحریک دی چي اجتماعي ژوند او هم فکر یي پیداکړ.
باچاخان(رح)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ